ژباړه او هڅه: رحمت آريا ۲۰۰۹/۱۰/۱۳م
دسرېزی ليکونکی او ویاند : مسعود فاراني

# د هېڅچا د واکمنۍ ګدۍ پر مستند فلم لنډه کتنه

ښاغلو لیدونکو! تاسو ته څرګنده ده  له هغه مهاله چې د لویدیځ ښکيلاک پښه د امريکا په لويه وچه او څه نا څه درې پيړۍ وړاندې د آسيا او افريقا پر لويو وچو ولګیدله نو له هغه مهاله د نړۍ په دغو لويو وچو کې ډېر ستر ټولنيز سياسي، او فرهنګي بدلونونه په غوښتونکې يا ناغوښتونکی توګه رامنځته شول؛ دغه بدلونونه په ځينو ځايونو کې مثبت خو په ټولیز ډول بنسټ نړوونکي ول.

هماغسې چې ښکيلاک په خپل راتګ سره ددغو سيمو د ولسونو جنازې پر ځمکه و غځولې او خپل کار يې د هغوی پر مړيو له پښو اينښودلو راپيل کړ ، په وتلو کې يې هم ددې لپاره چې په دغو لويو وچو کې ځانته د حضور ځای په بيلا بيلو بڼو ساتلای وي نو له رسمي وتنګ وروسته يې د سيمو ولسونو ته خونړي او له ربړو ډکې ستونزې پر ځای پريښودلې. د ښکيلاک په اړوند بحث د ښکيلاک د تأريخي بدمرغيو په څير اوږد دی ، هغه څه چې نن موږ د خبرو اترو لپاره وړاندې کوو يوازې د لرغونې ښکيلاک د تأريخ لرغونو ګوټونو ته يوه لنډه نغوته ده چې انځور يې د [ هېڅ چا د واکمنۍ د ګډۍ ] په مستند فلم کې راکښل شوی او ليدل يې افغان لیدونکو ته اړين بلل کيږي.

کله چې ښکيلاک له دغې سيمې څخه په وتلو اړ شو او يا يې په خپل چلند کې د بدلون راوستل اړين وبلل نو د لرغونو تأريخ لرونکو او ښکيلاک ځپلو ټولنو په منځ کې يې له نانډريو ډکې  بيلتونپاله کرښې جوړې کړې ، ستونزې يې وزيږولې ، په لوی لاس يې د توکمونو ترمنځ د توکمپالو ناپوهاويو له لارې تأريخي درغلنې له ځانه پريښودلې ، ښکيلاک پردغو نانډريو په ډېره لګولو غوښتل ځانته په ستونزو کې تلپاتې حضور خوندي او د لاسوهنو لپاره آسانتياوې رامنځته کړي.

له دغو لرغونو تأريخي درغليو څخه يوه يې د هخامنشيانو ، اشکانيانو او ساسانيانو د تش په نامه تمدن  لپاره د درغلن تأريخ جوړول ول چې کلونه کلونه په ايران او سيمه کې د يوه نه شک کيدونکي واقعيت په توګه په ټولو منل شوی ول. نن ددغو درغليو له مخې ايراني پوه ښاغلي ناصرپور پيرار ځادر ليري او واقعيتونه يې په ځلانده ډول روښانه کړي دي. فارسي ناسيوناليزم په هېڅ ډول د فارس له سپيڅلو پرګنو سره يو نه دی خو اوس موږ پوهيږو چې فارسي ناسيوناليزم ددغې تأريخي درغلنې ترشا په څه ډول مورچل نيولی او ادعا کوي چې ګڼې د هخامنشيانو او ساسانيانو د تش په نامه ستروا‌کيو لړۍ د فرهنګ او تمدن منځتکی او زانګو وه. د لوړتيا پالنې په هيلو کې ډوب فارسي نالسيوناليزم د لرغونو تأريخي درواغو او درغليو په ډېره لګونې کوم سپکاوي او ناتارونه نه ول چې د ايران په نورو توکمونو لکه تورکمنانو ، تورکانو ، خراسانيانو ، ايراني اعرابو ، کوردانو ، ارمنيانو ، بلوڅانو ، لورانو او لسګونو نورو توکمونو و نه لګول.
همدارنګه فارسي لوړتيا پالونکو د يوې تأريخي درغلۍ پر بنسټ د خپل ځان غټاوي د لړۍ په دغه لړ کې له يوې خوا خپل ګاونډی ولسونه لکه افغانستان ، آزربايجان ، تورکمنستان ، پاکستان ، تورکيه او خپل عرب ګاونډې هيوادونه سپک و ګڼل ، او له بلې خوا فارسي ناسيوناليزم چې په ايران کې د ټولې سياسي ، فرهنګی او ټولنيزې واکمنۍ ټيکه په لاس کې لري ځانته يې دا حق ورکاوه او ورکوي چې د نورو هيوادونو په کورنيو چارو کې لاسوهنه وکړي ، ځانته ګوډاګيان را خپل کړي ، او د نورو ولسونو له ځلاندو تأريخي لاسته راوړنو او تأريخي واقعيتونو څخه انکار وکړي او ټول يې د خپل ځان و ګڼي.

په دې لړ کې د اروپايي تفکر پر چورليځ را څرخيدونکي ليد لوري هم خپله ګټه د فارسي ناسيوناليزم په پياوړي کولو کې ليدله ، اروپايي ليد لوري د لرغونو تأريخونو په واقعيتونو کې د درغلۍ د ډډو په پړسولو له فارسي ناسيوناليزم سره د مرستی له لارې چې د سيمې د هيوادونو او د پرګنو په منځ کې د اورپکۍ اور او بيلتونپالنې ته د لمن وهلو ښه وسيله وه ، کار واخيست او هغه يې تر وسې وسې د ځان په ګټه و کاراوه. فارس توکمو تش په نامه پوهانو او ګڼ شمير مغرضو تأريخ ليکونکو او لرغون پيژندونکو پر موږ منلې وه چې د هخامنشيانو او ساسانيانو لړۍ لرغونی تمدن او ځلانده فرهنګ درلود چې د اغيزو لمنه يې له مصر او يونانه نيولې بيا د هند د سمندر تر وروستۍ څنډې پورې رسيدله.  د هيڅ چا د واکمنۍ د ګډۍ په فلم کې ايراني تأريخ ليکونکی او نوميالی لرغون پيژندونکی ښاغلی ناصر پور پيرار د ډېرو پياوړو علمي دلايلو په وړاندې کولو په زبادی رسوي چې له هخامنشيانو څخه يوازينۍ راپاتې شوې نخښه تخت جمشيد


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

چې ادعا کيږي د دغې لړۍ د پاچايانو پرتمينه ماڼۍ ، د هغوی د تمدن او فرهنګ يوه ځلانده بېلګه وه ، داسې يوه جوړښت دی چې هيڅکله د بشپړيدا کچې ته نه وه رسيدلې او په تيرو ۶۰ کالو کې پر هغې داسې بيا رغاونې شوې چې سيلانيانيو ته د درغلۍ هيڅ څرک و نه لګيږي. په ماڼۍ کې راټولې شوې نخښې د بين النهرين او د سيمې د تمدن يوه کاپي ده چې يهودانو فارسي ناسيوليزم ته په لوی لاس د يوې تأريخي وينې بهونې د پټولو په موخه د فارسي ناسيوناليزم د ودې جوړې کړې وې ، يهودانو ايران ته يو درغلن تأريخ جوړکړ. تاسو به په فلم کې وګورئ چې تخت جمشيد داسې يوه ماڼۍ ده چې د جوړښت کار يې هېڅکله پای ته نه دی رسيدلی. هغه تأريخ چې تش په نامه فارسي ناسيوليزم يې د داريوش ، ارد شير او خشايارشاه په اړه کوي چې د نوي کال په لومړۍ ورځ به دوی ته د سيمې له نورو هيوادونو څخه ډالۍ او سوغاتونه راوړل کيدل او دوی د خپلې واکمنۍ ، تمدن او فرهنګ يوه برخه يې ګڼل هسې يوه تش منځې ادعا ده او بس. ناصر پور پيرار په زباد رسوي چې د هخامنشيانو د ستروا‌کۍ په نامه واکمني له اره په سيمه کې نه وه. او دا د فارس د ناسيوليزم له ختې راوتلې درغلنې ادعاګانې دي چې هيڅکله له واقعيت سره ډډه نه لګوي. ناصر پور پيرار د يهودانو د [ استر] په نامه کتاب کې د پوريم په نامه له ياد شوي ناتار څخه يادونه کوي ، هخامنشيان د يهودانو د پوځې مټ په توګه چې له روسيې څخه راغلي ول د سيمې له پياوړي مقاومت سره مخامخ کيږي. يهودي کارپوهانو د پوريم پر خونړي ناتار د پردې اچولو په موخه د هخامنشيانو د تمدن تورې او باتې رامنځته کړې او درغلن لرغوني لاسوندونه يې ورته په ډيرې سپين سترګۍ جوړ کړل.

نن چې د ايراني پوه ښاغلي ناصرپور پيرار استدلال ته پاملرنه کوو موږ ته هغه له ملنډو ډکه ادعا ځومره خندنۍ ښکاري چې ګڼې زموږ هيواد افغانستان د هخامنشي او ساساني واکمنيو يوه برخه وو. هېڅ لويديځوال او افغان تأريخ ليکونکي هېڅکله دا پوښتنه نه ده رامنځته کړې چې که د ستروا‌کو دغو پرتمينو لړيو په رښتيا شتون درلود نو ولې تر نن ورځې پورې په افغانستان کې ددغو لړيو يوه ماته کوډۍ يا کَوډی ، يو سکه يا يو ودانيز جوړښت نه دی موندل شوی. خو زمو د هيواد او سيمې په تأريخ کې له ټولو تر سره شويو بريدونو او لوټماريو سره سره بيا هم موږ د باختري ، يوناني ، کوشاني ، بوادبي ، بودايي – يوناني يا ګريګو بوديک ، توركي ، مغولي او نورو اغيزې په زرګونو بيلګو کې کتلای او موندلای شو.

په ايران کې د تخت جمشيد د نيمه کاره او نابشپړې ماڼۍ په اړه د واقعيت افشا کيدل نه يوازې ددغې ماڼۍ د بنسټ په اړه د درغلۍ له مخې ښادر ليرې کوي بلکه د ايراني لوړتيا پالنې هغه بې بنسټې ډډې هم را لوڅوي چې په ايران کې د فارس د توکم له شپيلۍ څخه د لوړتياپالنې په سندرو کې پو کيږي.

تأريخ روښانه کړې چې لوړتيا پالنې په ځانګړډول له حقيقته ليرې او تش منځې لوړتيا پالنې د نوور ښکيلو خواوو په منځ کې يې دښمنيو ته لمن وهلې او دهغوی په منځ کې د ناخوالو د رامنځته کيدلو او وروسته پاتې کېدلو لامل ګرځيدلي دي.

موږ له تأريخپوهانو او روڼ اندو څخه په درنښت غواړو چې د ايراني لرغون پيژندونکي د پلټنو او څيړنو دغه ټولګه په ډير ځير وګورې او په دغو بيلګو کې دې په منځني ختيځ کې د پردې ترشا د جوړو شويو درغليو په اړوند ژور حقايق په څرګند او روښانه ډول ومومي.

**************


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

# د فلم پیل (لمړی برخه)

ویاند ۰۰۰

پارسه یا د جمشید گدی!



موزیک

د لرغوني نړۍ د معماريو مرغلره!

موزیک

دلته یو وخت تر لمر لاندي بډای ترینه ښار وو.
موزیک

ویاند ۰۰۱
د لمانځنو په دغه مرکز کي به هر کال د وري د میاشتي په لومړۍ د ایران د نړیوالي سترواکۍ له ټولو ساتراپیو یا د سترواکۍ له هغو هیوادونو څخه استازي راټولیدل چي بنسټ يي داریوش ایښی وو .



ویاند ۰۰۲

هغه چا ته چي اجازه ورکول کیدله نود ننوتنگ له پوړیو څخه په را تیریدا به ډېریني چوترې ته له رسیدا سره سم به هک پک به شو. هغه به یوه شنه ښیرازه دښته شا ته پرې ایښي وه او پر یوي لویي ډبريني چوترې به ننوت چي د ځمکي څخه ۱۴ متره لوړه وه. یوه بي ساري له بي شمیرو ښکلیو مانیو ډکه ډبرینه چوتره

ویاند ۰۰۳
موږ اوس د سلو ستنو په ماڼۍ یا [کاخ صد ستون] کي یو که خشا یار شاه را پیل او زوی یي اَردشیر پای ته و رسوله. دغه ماڼۍ د تخت جمشید په ټولو مانیو کي یوه پرتمینه ماڼۍ ده ، سل ستني يي درلودلي ، په هره کرښه کي لس لس ستني ولاړي وې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ



ویاند ۰۰۲

هرڅوک چي د آپادانا په پوړیو پورته کیده ، نو په ډیر هک پکوالي به د هغي د پرتمین ښایست او ښکلا تر اغیزو لاندي راغی. له هغه وروسته به له سترو ۱۸ متریزو لرګینو دروازو څخه چي هر یوه یي د سرو او سپینو ځلورځندیزو کي پسولل شوی وه تیر او اصلي تالار ته به ننوت. په ماني کي دننه ، میلمانه د پرتمین افسانه یي چاپیریال شاهدان دي. د ماني تالار له سره ترپایه په رنګ ګ رنګ غالیو پوښل شوی او د دیوالونو ښکلو پسولنو د ماني ښکلا لا زیاته کړي ده.



موزیک

میلمه پاس ستر چت ته ګوري ؛ چت په ډیری ښکلا ، رنګ او پسولل شوی دی.

[ د ۰۰۲ او ۰۰۱ او ۰۰۳] د ویاندانو غبرګ غږونه

هرڅوک چي د آپادانا له پوړیو پورته کیده ، نو په ډیری هک پکی به د ماني د ښایست او ښکلا تر اغیزو لاندي راغی. موږ اوس د سلو ستنو په ماني یا [کاخ صد ستون] کي یو که خشا یار شاه را پیل کړی وو. له هغه وروسته به له لویو ۱۸ متریزو لرګینو دروازو څخه چي هر یوه یي د سرو
او سپینو زرو په پښتورګي وزمه انځورول شویو تنیو پسولل شوی وه تیرشو او اصلي تالار ته به ننوت.






ناصرپور پیرار : له هر څه مخکي اجازه راکړئ پرته له دې چې د لاسوندونو او دلایلو ډګر ته ننوځم تاسوته د یوې سریزې په توګه ډاګیزه کړم چې د تخت جمشید طرح په ټولیز ډول د نابشپړو شویو مانیو یوه ټولګه ده چې د جوړښت کار یې په ټولیز ډول له دیرشو په سلو کې زیات پرمخ نه دی تللی ، خو زه غواړم دا ووایم سره له دې چې ددغي ټولګي څمکني

پسور خورا زیات دی ، له یو سلو دیرش زره مترمربعي څخه زیات ؛ ټول کار د ودانی جوړولو په نهو ځایونو کې په یوه وخت کې پرمخ روان وو ؛ که د تخت جمشید د جوړولو ټول کاربشپړشوی هم ومنو ، او دا ومنو چې په پام کې نیول شوی نقشي پلي او پانګه هم ورباندي لګیدلي . بیا هم تخت جمشید په نړی کې د موندل شویو آثارو په پرتله چې لرغونتوب یې له تخت جمشید څخه خورا زیات لرغوني دي یوه نا څیزه ټولګه ده او دومره د پاملرنی وړ نه ده.

موزیک



ویاند ۱

مخکي له دې چې تخت جمشید د خاورو له منځه را لوڅ شي دغه سیمه د لومړنیو ایستل شویو او اخیستل شویو انځورونو پربنسټ په خاورو کې پوښل شوی او هواره څمکه وه.



موزیک

خو کله چې د مانیو د ټولګي له مخي د خاورو د لیري کولو کار پیل شو ، هغي ډلي چې ددغي سیمي د کیندلو دنده په غاړه درلودله له داسي پیښنو سره مخامخ شوه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ







وزیک

هغوی مخکی له مخکي پوهیدل چي له څه شي سره مخامخ کیږي نو د جوړ شوي پلان بربنسټ يي موندل شوي ونړلی ترڅو نن موږ له دغسي یوي پیښي سره مخامخ شو.

موزیک

له دي امله دا د ۲۵۰۰ کلني ستني نه دي بلکه ۶۰ [ شپیته] کلني ستني دي.

موزیک

ناصرپور پیرار: دغه شنني تر دي هم لا جدي دي. موږ لومړی باید هغه په خوب بیده او کرخت ذهنونه راویښ کړو چي د ځانګړو تبلیغاتو تر اغیزو لاندي بي سده شوي دي ، هغه تبلیغات چي موږ یي له یو بل سره لاس او ګریوان کړي یو ، د بیلګي په توګه یو یي وايي : زه د عربو دبنمن یم! بل یي وايي بنه که دا په افریقا کی هم وي بیا هم زه ور سره دبنمن یم! ځکه هغه راغلی او زما تمدن یي را دړي وړي کړی دی. پام مو دی؟ بنه ! که ورځخه پوښتنه وکړو چي ستاسو د تمدن آثار چیري دي ؟ په ځواب کي درته وايي چي ټول یي را ویجاړ کړل!



ویاند ۱
دغه دیوال چي د حجاري کار يي بشپړ بنکاري بیا هم د معماری له ډیرو نیمګړتیاوو څخه ډک دی.

موزیک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ







ناصرپور پیرار : دا د هخامنشیانو د پیژندنې لپاره یوازینې را پاتې نخښه ده چې کولای شي ورباندې ډېره ولګوي چې هغه هم یوه نیمګړې نښخه. نو هغه ډنډورې چې په نړۍ کې د هخامنشیانو د سیاسي او فرهنګی او ان پوځي اغیزو په اړوند ویل شوې هسې منځتشې خبرې دي ؛ د بیلګې په توګه پر یونان د خشایارشاه برید ، هغه خشایارشاه چې په تخت جمشید کې ځانته د یوې خونې په جوړولو نه دې بریالی شوی ، په کومو امکاناتو ، د کومو پوځې مرکزونو په لرلو ، اسپونه یې چیرې ساتل ، هغه خپل ځانته ځای نه درلود.

موزیک

ناصرپور پیرار : ستاسو هخامنشیانو کومه طویله جوړه کړې چې موږ یې ووینو؟ کوم پل یې جوړ کړی؟ کوم ورزشځای یې جوړ کړی؟ مزدک [ عبادتځای] یې چیرې دی ؟ دا خوپه دې ډول نه کیږي چې هرڅه ستا زړه و غواړي ویي وایی او له نړی ځخه دا هیله هم ولرې چې ستا د خوښې وږهره خبره دي در سره و مني ؟

موزیک

نوربیا

یـــادونـــه:
د فلم د لیدلو لپاره د تحلیل د ښاڼګې کېڼي خواته د تلویزیون های افغاني تر کرکی لاندي د آ ګ او تی وی د مستندوفلمونو په برخه کې و ګورئ!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ